**بسم الله الرحمن الرحيم**

(ژباړه)

## هغه مسلمان چې خپل ورور يوازې پرېږدي!

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«مَا مِنِ امْرِئٍ يَخْذُلُ مُسْلِماً فِي مَوْطِنٍ يُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ ، وَيُنْتَقَصُ فيه عِرْضُهُ إِلا خَذَلَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ، وَمَا مِنِ امْرِئٍ يَنْصُرُ مُسْلِماً فِي مَوْطِنٍ يُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ وَتُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ إِلا نَصَرَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ.»** (الحديث رواه أبو داود وهو حسن)

*__ژباړه:__ هغه څوک چې خپل مسلمان ورور په داسې حال کې چې حرمت او عزت يې له منځه ځي، يوازې پرېږدي، الله (سبحانه وتعالی) به په داسې حال کې هغه يوازې پرېږدي، چې الهي نصرت ته به اړتيا لري او هغه څوک چې له خپل مسلمان ورور سره په داسې حال کې مرسته وکړي چې حرمت او عزت يې له منځه ځي، نو هغه ته به الله سبحانه وتعالی په داسې حال کې نصرت ورکړي، چې دی يې وغواړي او اړتيا ورته لري.*

له جابر رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «ما من امرئ مسلم يخذل (د ذال په ضمه حرکت سره) امرَأ مسلما في موضع ينتهك (په مجهولې ضيغې سره)» يعنې چې يو څوک خپل مسلمان ورور په داسې شرايطو کې يوازې پرېږدي، چې له هغو سره د مخ کېدو مستحق نه وي. (فيه): هملته. (حرمته): عزت او درناوی يې او په جامع صغير کې د (من حرمته) په لفظ سره راغلی دی.

ښايي سم او کره روايت همدا وي؛ لکه څنګه چې د يوې مرکې اړينه معرفي ښه وي. په جامع کې بيا داسې راغلي: «ينتقص فيه من عرضه، وينتهك فيه من حرمته» د يادونې وړ ده چې ترتيب يې هم مناسب دی؛ ځکه عام شکل تر خاص وروسته راغلی او له هغه څه سره ورته دی، چې په دويم پارګراف کې راغلي دي؛ يعنې د مشکاة د ترتيب برعکس، ځکه په هغه کې داسې روايت شوی دی: «وينتقص فيه من عرضه» له (انقاص) مصدر څخه په مجهولې صيغې سره، چې هم لازم دی او هم متعدي او دا معنا ورکوي: «هغه کس چې له خپل مسلمان ورور سره د سپکاوي، وهلو او يا وژلو په حال کې مرسته ونه کړي؛ په داسې حال کې چې په قولي او فعلي توګه له هغه څخه د دفاع وړتيا ولري. (إلا خذله الله تعالی فی موطن يحب) يعنې الله سبحانه وتعالی هغه په داسې شرايطو کې يوازې پرېږدي، چې دی يې مرستې او ملاتړ ته اړتيا لري او د دنيا او اخرت په سختو حالاتو کې يې يوازې پرېږدي. هر هغه څوک چې له خپل مسلمان ورور سره په داسې حال کې مرسته وکړي، چې د هغه حرمت او عزت له منځه ځي، نو الله سبحانه وتعالی به له هغه سره په سختو حالاتو کې مرسته وکړي.

کوم احاديث چې پر دې موضوع دلالت کوي، د عبدالله بن عمر رضی الله عنه حديث دی او هغه روايتوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«المسلم أخو المسلم لا يظلمه ولا يسلمه، ومن كان في حاجة أخيه كان الله في حاجته، ومن فرج عن مسلم كربة فرج الله عنه كربة من كربات يوم القيامة، ومن ستر مسلماً ستره الله يوم القيامة.»** (رواه البخاري ومسلم والترمذي وأبو داود وأحمد)

*ژباړه: یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه پر هغه ظلم کوي او نه يې دښمن ته تسليموي؛ څوک چې د خپل مسلمان ورور اړتیا پوره کړي، الله (سبحانه وتعالی) د هغه اړتیاوې پوره کوي؛ څوک چې د خپل مسلمان ورور ستونزې حل کړي، الله (سبحانه وتعالی) هغه ته د قیامت په ورځ سختی او ستونزې اسانوي او څوک چې د یو مسلمان عیب پټ کړي، الله (سبحانه وتعالی) به د قیامت په ورځ د هغه عیبونه پټ کړي.*

او هغه ایت چې پر دې موضوع دلالت کوي؛ الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا وَقَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَوْ كَانُوا عِنْدَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾** [آل‌عمران: ۱۵٦]

*ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! د کافرانو په څېر مه کېږئ، چې کله به يې ورونه (د کار او کسب لپاره) مسافر کېدل (او بیا به ووژل شول) یا به يې په جګړه کې ګډون کاوه (او هلته به ووژل شول) نو وبه يې ویل: «که له موږ سره وای، نه به مړه کېدل او نه به وژل کېدل (تاسو اې مومنانو! داسې خبرې مه کوئ) چې الله (سبحانه وتعالی) دغه (خبرې او ګومان) د هغوی په زړونو کې د غم او افسوس وسیله ګرځوي او یوازې الله (سبحانه وتعالی) دی، چې ژوندي کول او مړه کول کوي (ژوند او مرګ د هغه سبحانه وتعالی په لاس کې دی) او الله (سبحانه وتعالی) چې څه کوي (هغه که ښه وي یا بد) هغه يې ویني.*

همدارنګه الله سبحانه وتعالی په یو بل ایت کې مسلمانانو ته امر کړی دی:

**﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا﴾** [آل‌عمران: ۱۰۳]

*ژباړه: ټول د الله پر رسۍ (قران او اسلام) منګولې ټینګې کړئ او تیت‌پرک نشئ؛ د الله (سبحانه وتعالی) نعمت ځان ته در یاد کړئ، هغه وخت چې (له یو بل سره) دښمنان وئ او الله (سبحانه وتعالی) ستاسو زړونه سره نږدې کړل، وروسته (د هغه د نعمت له برکته) د یو او بل ورونه شوئ.*

الله سبحانه وتعالی د قرآن کریم په یو بل ځای کې فرمایي:

**﴿إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ﴾** [انبیاء: ۹۲]

*ژباړه: دا ستاسو یوازینی امت دی او زه ستاسو رب یم؛ نو زما عبادت وکړئ!*

او په پای کې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ﴾** [مؤمنون: ۵۲]

*ژباړه: دا ستاسو یوازینی امت دی او زه ستاسو ټولو رب یم؛ نو یوازې له ما څخه ووېرېږئ!*

پر دغو ټولو ایتونو او احادیثو سربېره څنګه کولی شو، چې خپل وروڼه ناهیلي کړو او د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو په منګولو کې یې یوازې پرېږدو؟! الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته له مسلمانانو سره د مرستې توصیه کړې؛ نو موږ ته لازمه ده چې دغه امر عملي کړو او په دې لاره کې ګام واخلو.

**ژباړه: بهیر ویاړ**